AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ
۲۰۲۶/۰۹/۲۳

# دوه اوسپنیز سیاستوال، دوه ملتونه؛ د امیر او صدراعظم د ځواک، دولت جوړونې او سیاسي واقعیت پالنې یوه تاریخي ـ تحلیلي پرتله

(دویمه برخه)

## ۱۵.عبدالرحمن خان او د سیاسي واقعیت پالنې منطق؛ د دولت بقا، ځواک او د ډیورنډ هوکړې لیک




د امیر عبدالرحمن خان د سیاسي میراث ارزونه هغمهال له تاریخي او علمي پلوه ما نا پیدا کوي، چې د هغه کړنې د نولسمې پېړۍ د افغانستان په ځانګړي سیاسي، نظامي او جیوپولیټیکي چاپېریال کې تحلیل شي، نه دا چې یوازې د معاصر دولت، ملي حاکمیت او سیاسي اخلاقو له معیارونو سره پرېکړه پرې وشي. افغانستان هغمهال د اوږدو کورنیو شخړو، د مرکزي واک د کمزورۍ، د سیمه ییزو قدرتونو د سیالۍ او د روسیې او برتانوي هند ترمنځ د لویې لوبې د جیوپولیټیکي رقابت په منځ کې واقع و. په همدې شرایطو کې عبدالرحمن خان داسې دولت په میراث وانخیست، چې له مخکې څخه یو بشپړ او باثباته مرکزي جوړښت ولري؛ بلکې د هغه یوه اساسي ستونزه دا وه، چې څنګه له متفرقو سیاسي او پوځي ځواکونو څخه یو نسبتاً منسجم مرکزي دولت جوړ کړي او د هغه بقا تضمین کړي. اوسپنیز امیر هڅه کوله، ترڅو د دوړو نړیوالو زبرځونو ترمنځ د تاریخي افغانستان مرکزي دولت او ځمکنۍ بشپړتیا شتون تثبیت کړي.

عبدالرحمن خان کله چې د افغانستان امیر شو او د واکمنۍ په اوږدو کې یې د مرکزي دولت د پیاوړتیا، د مالیاتي او اداري جوړښتونو د پراختیا، د سیمه ییزو ځواکونو د کنټرول او د کابل د حکومت د واک د پراخولو لپاره پراخ اقدامات ترسره کړل. د هغه دولت جوړونه یوازې د اداري اصلاحاتو پروژه نه وه؛ له پوځي ځواک، اجباري ادغام، سختو مجازاتو او د مخالفو ډلو د ځپلو سره هم ملګرې وه. له همدې امله، د هغه د دولت جوړونې پروسه باید هم د مرکزي دولت د رامنځته کېدو له زاویې او هم د هغې د انساني او سیاسي بیې له مخې وځېړل شي.

## ۱۶. د عبدالرحمن خان سیاست او د واقعیت پالنې منطق

د عبدالرحمن خان د بهرني او کورني سیاست په یوه مهمه برخه کې د سیاسي واقعیت پالنې (Realpolitik) له منطق سره د پامور ورته والی لیدل کېږي. سیاسي واقعیت پالنې په عمومي ډول هغه سیاسي لیدلوری دی چې په کې د دولت د تصمیمونو بنسټ د موجود ځواک، امنیتي اړتیاوو، جیوپولیټیکي محدودیتونو، احتمالي ګواښونو، فرصتونو او عملي مصلحتونو پر محاسبه ولاړ وي، نه یوازې پر اخلاقي ارمانونو یا ایډیالوجیکو موخو.

عبدالرحمن خان په داسې نړیوال چاپېریال کې واکمني کوله، چې افغانستان د دوو ستر امپراتوریو، روسیې او برتانوي هند، ترمنځ د حایلي سیمې حیثیت درلود. د هغه لپاره د بهرني سیاست یوه اساسي ستونزه دا وه، چې څنګه د دغو دواړو قدرتونو ترمنځ داسې توازن وساتي. څو افغانستان د یوه لوري د بشپړ نفوذ تر سیوري لاندې رانشي. په دې برخه کې د هغه سیاست له دې محاسبې سره تړلی و، چې د افغانستان د خپل محدود نظامي او اقتصادي ظرفیت په درلودلو سره نه شي کولای له دواړو سترو قدرتونو سره په مستقیمه او اوږدمهاله تقابل کې بریالی شي؛ نو د بقا لپاره باید د قدرتونو ترمنځ د موجودو تضادونو او رقابتونو له واقعیت سره معامله وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا ډول د عبدالرحمن خان د سیاست د پوهېدو لپاره مهم دی: هغه تل د ,,څه باید وشي؟,, پر ځای، تر ډېره د ,,په موجودو شرایطو کې څه شوني دي؟,, پوښتنې ته متوجه و. دغه تفکر د سیاسي واقعیت پالنې له بنسټیز منطق سره نږدې اړیکه لري.
خو دا ورته والی باید د بشپړ فکري یا تاریخي یووالي په مانا وانخیستل شي. عبدالرحمن خان د عصري سیاسي علومو په اصطلاحاتو کې ځان د سیاسي واقعیت پالنې تیوریسن نه باله؛ بلکې دا اصطلاح د هغه د تصمیمونو د تحلیل پاره کارول کېدای شي. له همدې امله، علمي بحث باید د اصطلاح او تاریخي واقعیت ترمنځ توپیر وساتي.

## ۱۷. د ډیورنډ موافقه؛ له ساده قضاوت څخه تر تاریخي تحلیل پورې

د ۱۸۹۳ کال د ډیورنډ موافقه د عبدالرحمن خان د بهرني سیاست له تر ټولو مهمو، پېچلو او له اوږدمهالو پایلو سره تړلو پرېکړو څخه ده. دا موافقه د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د سرحدي نفوذ او اړوندو سیمو په اړه د سیاسي تفاهم په توګه رامنځته شوه او د برتانوي هند د بهرني سیاست د ستراتیجیکو موخو، د افغانستان د هغمهالني وضعیت، د امیر د سیاسي محاسبو او د سیمې د ستر قدرتونو د رقابت په پراخ چوکاټ کې باید تحلیل شي.
د دې موافقې د ارزونې پر مهال دوه افراطي تعبیرونه د تاریخي واقعیت د بشپړ بیان لپاره کافي نه دي. یو تعبیر دا دی چې امیر په بشپړه ازاده فضا کې، له هېڅ ډول فشار او محدودیت پرته، یوازې د خپلې ارادې له مخې پرېکړه وکړه؛ بل تعبیر بیا دا دی چې هغه هېڅ ډول انتخاب نه درلود او ټول تصمیم یې په مطلق ډول د برتانوي زور محصول و. د تاریخي شواهدو پر بنسټ، د مسئلې لپاره تر دې دواړو ساده تعبیرونو منځنۍ او پېچلې ساحه هم شته.
برتانوي هند د پوځي، مالي او امپراتورۍ له پلوه له افغانستان سره د پاموړ نابرابر ځواک درلود. د دویمې افغان - انګلیس جګړې وروسته افغانستان په بهرني سیاست کې د سختو محدودیتونو تر اغېز لاندې و، او عبدالرحمن خان پوهېده چې د برتانوي هند له مستقیم نظامي ځواک سره اوږدمهاله تقابل د افغانستان لپاره خورا درونډ خطر رامنځته کولای شي. له بلې خوا، امیر د خپلو داخلي دولت جوړونې پروژو لپاره نسبي بهرني ثبات او د کابل د مرکزي حکومت د پیاوړتیا لپاره د فرصت غوښتونکی و.
له همدې امله، د ډیورنډ موافقه د ,,ازاد انتخاب,, او ,,مطلق جبر,, ترمنځ د یوه تاریخي انتخاب په توګه تحلیل کېدای شي: داسې انتخاب چې د پوځي قدرت د ژور نابرابرۍ، جیوپولیتیکي فشار، داخلي دولت جوړونې او د امیر د سیاسي محاسبې تر اغېز لاندې و.
دا هم مهمه ده چې د ۱۸۹۳ کال پرېکړه له هغه څه سره چې په ۱۹۴۷ کال کې رامنځته شول، په مستقیمه زماني مانا ګډه نه کړو. عبدالرحمن خان په هغه وخت کې د انګرېز ناجایزه اولاد ,,پاکستان,, د رامنځته کېدو په اړه د راتلونکي دولت په توګه تصمیم نه شو نیولای، دا مهال ترینه خبر هم نه وه، ځکه پاکستان تر نږدې نیمې پېړۍ وروسته، د برتانوي هندد وېش پر مهال، رامنځته شو. له همدې امله، د ډیورنډ موافقې د تاریخي تحلیل پر مهال باید د ۱۸۹۳ کال تصمیم او د ۱۹۴۷ کال وروسته د هغې د سیاسي میراث مسئله سره جلا، خو په اړیکه کې وڅېړل شي.

## ۱۸. د ډیورنډ موافقې اوږدمهاله میراث

د ډیورنډ موافقې د اوږدمهاله میراث په اړه د افغانستان، پاکستان، برتانوي هند او پښتني سیمو په تاریخ لیکونو کې پراخ اختلاف موجود دی. د موافقې حقوقي ماهیت، د هغې د اعتبار دوام، د سرحدي کرښې سیاسي اهمیت او د هغې د میراث په اړه وروسته رامنځته شوي بحثونه تر نن ورځې پورې د تاریخي او سیاسي څېړنو ګرمه موضوع پاتې شوي ده.
له همدې امله، د علمي تحلیل لپاره مناسبه ده، چې د ۱۸۹۳ کال د موافقې اصلي متن، د هغه وخت د برتانوي هند رسمي اسنادو، د عبدالرحمن خان یادښتونه او معاصرې تاریخي سرچینې له وروسته رامنځته شویو سیاسي روایتونو څخه جلا وکتل شي. د یوې تاریخي پېښې وروسته پایلې د هغې د اصلي تصمیم له فوري نیتونو سره تل یو شان نه وي.
په همدې مانا، دا امکان شته چې یو سیاسي تصمیم د خپل وخت له نظره د یوه مشخص امنیتي یا دولت جوړونې هدف لپاره ونیول شي، خو د راتلونکو نسلونو په شرایطو کې داسې پایلې پیدا کړي، چې د تصمیم نیوونکي له اصلي محاسبې څخه ډېرې متفاوتې وي. د ډیورنډ مسئله د همدې تاریخي پدیدې یا ښکارندې یوه څرګنده بېلګه ده.

## ۱۹. ډیورنډ؛ د نفوذ او سیاسي مسؤولیت مسئله

د عبدالرحمن خان د بهرني سیاست له تر ټولو حساسو موضوعاتو څخه د۱۸۹۳م کال ډیورنډ موافقه ده. په دې موضوع کې باید له یوې مهمې ساده‌ګڼنې ډډه وشي: د ډیورنډ موافقه نه شي کولای یوازې د ,,ځمکې د ورکړې,, په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یوه لنډه جمله کې خلاصه شي؛ خو له بلې خوا دا هم له تاریخي او حقوقي پلوه دقیقه نه ده، چې د تړون فرضي کرښې یا ,, سرحد,, اهمیت په بشپړه توګه رد شي.
د ۱۸۹۳م کال سند د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د سرحدي کرښې او د دواړو حکومتونو د مداخلې د ساحو د تنظیم لپاره یو مشخص توافق و. د تړون په لومړۍ ماده کې د امیر د قلمرو ختیځه او جنوبي پوله د یوې ټاکل شوې کرښې له مخې بیان شوې، او په دویمه ماده کې دواړو لورو د یو بل د قلمرو له اړخونو هاخوا د مداخلې د نه کولو ژمنه کړې وه.
له همدې امله، ډیورنډ موافقه باید په یوه وخت کې د سرحدي کرښې ټاکلو، د سیاسي نفوذ د ساحو د تنظیم او د دواړو حکومتونو د متقابلو ژمنو په چوکاټ کې مطالعه شي.

## ۲۰. د عبدالرحمن خان د روایت اهمیت “Strong Wall for Protection”

د ډیورنډ د موضوع په اړه د عبدالرحمن خان خپل روایت ,, تاج التواریخ,, د لومړني ماخذ په توګه ځانګړی اهمیت لري. د هغه په (*The Life of Abdur Rahman, Amir of Afghanistan*) کتاب کې د افغانستان د سرحدونو په اړه راغلي; چې د هېواد د نورو ګاونډیانو سره د حدودو له ټاکلو وروسته غوښتل د هند پر لوري هم سرحد مالوم شي، څو د افغانستان شاوخوا د ساتنې لپاره یو ,, strong wall پیاوړي دېوال جوړ شي.
عبدالرحمن خان د سرحدي کرښې تشبیه له یوه کور سره کوي: لکه څنګه چې یو کور د ساتنې لپاره دېوال ته اړتیا لري، افغانستان هم د ده په روایت کې د مشخصو سرحدونو له لارې د سیاسي امنیت لپاره یو ,,دېوال,, ته اړتیا لري.
دا روایت د عبدالرحمن خان د سیاسي فکر د درک لپاره مهم دی؛ خو باید د تاریخي حقیقت له نورو اسنادو سره یو ځای ولوستل شي. ځکه دا د یوه واکمن خپل توجیه‌کوونکی روایت دی، نه بېطرفه نړیوال حقوقي حکم.

د ډیورنډ د مسئلې په تحلیل کې د عبدالرحمن خان خپل سیاسي روایت ځانګړی اهمیت لري. هغه د افغانستان د شاوخوا سرحدونو د مشخصولو اړتیا د دولت د امنیت او ساتنې له نظره توجیه کوي او د سرحد د ټاکلو لپاره د ,, strong wall for protection,, یعنې ,,د ساتنې د یوه قوي دېوال,, تصور یا اړتیا وړاندې کوي.
د دې تعبیر اهمیت په دې کې نغښتی دی، چې عبدالرحمن خان سرحدي تنظیم یوازې د ځمکنۍ معاملې په توګه نه وړاندې کوي؛ بلکې هغه یې د دولت له امنیت، د بهرنیو مداخلو له محدودولو او د افغانستان د سیاسي حدودو له روښانه کولو سره تړي. البته، د یوه واکمن خپل روایت باید د تاریخي حقیقت وروستی او یوازینی تفسیر ونه ګڼل شي. د ډیورنډ موافقې د حقوقي ماهیت او د هغې د وروسته سیاسي میراث د ارزونې لپاره د تړون اصلي متن، وروسته توافقات، د برتانوي هند اړوند اسناد او د سیمې وروپسې سیاسي تحولات باید په ګډه وڅېړل شي.

## ۲۱. عبدالرحمن خان او بیسمارک؛ د سیاسي واقعیت‌پالنې دوه بېلابېل چاپېریالونه

د عبدالرحمن خان او اوټو فون بیسمارک پرتله هغمهال علمي ارزښت پیدا کوي، چې د دواړو ترمنځ د ورته‌والي ترڅنګ د هغوی د قدرت د شرایطو بنسټیز توپیرونه هم په پام کې ونیول شي.
بیسمارک د پروشیا د سیاسي، اداري او نظامي ځواک پر یوه نسبتاً پیاوړي بنسټ ولاړ و. هغه د جرمني د یووالي په بهیر کې د جګړې، ائتلافونو، ډیپلوماتیکو معاملاتو او د اروپا د قدرت د توازن له سیاست څخه استفاده وکړه. د هغه د سیاسي واقعیت پالنې د داسې دولت د ځواک پر بنسټ ولاړه وه، چې له مخکې څخه د پامور نظامي او اقتصادي ظرفیت یې درلود او کولای یې شول خپل ځواک د پراخ سیاسي هدف لپاره منظم کړي.
عبدالرحمن خان بیا په داسې وضعیت کې واک ته ورسېد، چې افغانستان له اوږدو داخلي شخړو وروسته له مرکزي کمزورۍ، سیمه ییزو سیاسي جوړښتونو او بهرني فشار سره مخ و. د هغه لومړنۍ ستونزه د یوه پیاوړي دولت د پراخولو مسئله نه وه؛ بلکې تر ډېره د یوه کمزوري او متفرق سیاسي نظم د بیا راټولولو، د مرکزي واک د ټینګولو او د دولت د بقا د تضمین ستونزه وه.
له همدې امله، که بیسمارک د موجود ځواک د راټولولو او پراخولو له لارې د دولت د یووالي او نړیوال موقعیت د پیاوړتیا په لټه کې و، عبدالرحمن خان تر ډېره هڅه کوله چې د محدودو امکاناتو په دننه کې د دولت د مرکزي واک بنسټونه ټینګ کړي.
د دواړو ترمنځ اصلي ورته‌والی په دې کې لیدل کېدای شي چې دواړو د سیاست په ډګر کې د قدرت، مصلحت، ائتلاف، فشار او ډیپلوماتیکي معاملې اهمیت درک کاوه؛ خو د هغوی د دولتونو جوړښتي شرایط، نړیوال موقعیت، اقتصادي ظرفیت او د سیاسي اقدام ساحه یو شان نه وه. له همدې امله، د دواړو مستقیمه او مطلقه مقایسه د تاریخي واقعیت یوه برخه له پامه غورځوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

## ۲۲. دولت جوړونه؛ د ځواک کارولو او د تاوتریخوالي دوه اړخونه

د عبدالرحمن خان د واکمنۍ تر ټولو مهم اړخ یوازې د بهرني سیاست په برخه کې نه، بلکې د دولت جوړونې په داخلي پروسه کې هم څرګندېږي. هغه د مرکزي حکومت د اداري او مالي ظرفیت د پراختیا، د پوځ د منظمولو، د مالیاتو د راټولولو او د سیمه ییزو قدرتونو د کمولو لپاره هڅې وکړې.
خو د دې دولت جوړونې پروسه له پراخې زور کارونې، جبري ادغام، تبعیدونو، اعدامونو او د مخالفو سیاسي او ټولنیزو ډلو د سخت ځپلو سره هم مل وه. د عبدالرحمن خان د واکمنۍ د دې اړخ له یادولو پرته د هغه د دولت جوړونې تصویر نیمګړی پاتې کېږي. دغه منفرد بغاوتونه اکثراً د افغانستان په شمالي، مرکزي، ختیځو او سویلي سیمو کې وو.
همدا دوه ګونوالی د هغه د تاریخي میراث د پوهېدو لپاره اساسي دی: له یوې خوا د مرکزي دولت د بنسټونو پیاوړتیا؛ له بلې خوا د دې پروسې لوړه انساني او ټولنیزه بیه.
د دولت د ظرفیت زیاتوالی په خپله د حکومت د مشروعیت، عدالت یا د اتباعو د حقونو د رعایت ثبوت نه ګڼل کېږي. په همدې ډول، د مرکزي دولت جوړېدل هم په اتومات ډول دا مانا نه لري، چې د هغه د جوړېدو ټولې لارې له سیاسي او اخلاقي پلوه یو ډول وې. د عبدالرحمن خان د دورې مطالعه باید دا دواړه واقعیتونه په یوه تحلیلي چوکاټ کې وساتي.

## ۲۳. د امیر دوست محمد خان له میراث سره اړیکه

عبدالرحمن خان د امیر دوست محمد خان د لمسي په توګه او د هغه شخصیت او سیاسي تجربې په تحلیل کې د بارکزي کورنۍ د اوږدې سیاسي مبارزې، کورنیو شخړو او د افغانستان د مرکزي دولت د جوړېدو د لومړنیو پړاوونو مطالعه مهمه ده.
دوست محمد خان په ۱۸۶۳ کال کې هرات بېرته د خپل واک تر ولکې لاندې راوست؛ هماغه کال د هغه د واکمنۍ وروستی کال و او لږه موده وروسته ومړ. عبدالرحمن خان وروسته د کورنیو سیاسي شخړو له امله له افغانستان څخه ووت او شاوخوا دولس کاله یې د روسیې تر واک لاندې سیمه بخارا کې تېرکړل. د ده دا جلاوطنۍ یوازې د سیاسي ژوند د یوه وقفه یې پړاو په توګه نه، بلکې د هغه د سیاسي تجربې د جوړېدو یوه مهمه برخه هم ګڼل کېدای شي.
کله چې عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ کال کې افغانستان ته راستون شو او د کابل پر تخت کښېناست. اعلیحضرت ضیاء الملته والدین امیرعبدالرحمن خان د ۲۱ کلونو سلطنت ورسته، د هغه زوی امیر حبیب الله خان (سراج الملّته والدین) په نسبتاً منظمه سوله ییزه ډول د افغانستان د پاچاهۍ تخت ځایناستي وتاکل شو.

## ۲۴. د عبدالرحمن خان تاریخي میراث

د عبدالرحمن خان میراث په یوه واحده کلمه یا یوه سیاسي نښه کې نه راټولېږي. هغه په یوه داسې تاریخي دوره کې واکمن و، چې افغانستان د دولت جوړونې، داخلي وېشونو، امپراتورۍ سیالۍ او د محدودو سرچینو له ستونزې سره مخ و. د هغه واکمنې د مرکزي دولت د پیاوړتیا او اداري تمرکز له مهمو پړاوونو څخه وه؛ خو په همدې وخت کې یې د سختې واکمنۍ، جبري ادغام او پراخې زورکارونې ځانګړتیاوې هم درلودې.
همدارنګه، له بهرنیو قدرتونو سره د هغه معاملې یوازې د تسلیمۍ یا یوازې د بریا په قالب کې نه شي تشریح کېدای. د هغه سیاسي عمل د ځواک د نابرابرۍ، د دولت د بقا، داخلي اړتیاوو او بهرني فشارونو په ګډه ساحه کې ترسره کېده.
له همدې امله، د عبدالرحمن خان د تاریخ اصلي پوښتنه ښايي دا نه وي چې ,,هغه ښه و که بد؟,,؛ بلکې دا ده چې په یوه کمزوري او له جیوپولیتیکي فشار سره مخ دولت کې، هغه د قدرت، امنیت، مرکزي واک، بهرني فشار او دولت جوړونې ترمنځ څه ډول اړیکه جوړه کړه، کوم انتخابونه درلودل، د دغو انتخابونو لپاره یې څه بیه ورکړه او راتلونکو نسلونو ته یې څه ډول میراث پرېښود؟

## ۲۵. عبدالرحمن خان او بیسمارک؛ دوه اوسپنیز سیاستوال، دوه بېلابېل تاریخي سیاسي میدانونه

د عبدالرحمن خان دولت سازي: لومړی دولت، بیا إصلاحات یوه مقایسوي ـ تاریخي څېړنه
د عبدالرحمن خان د دولتدارۍ د سیاست د درک لپاره یو مهم ټکی دا دی، چې هغه د اصلاحاتو او پرمختګ تر مخه د مرکزي دولت د ټینګښت اړتیا اساسي ګڼله. د هغه په سیاسي منطق کې امنیت، اداري نظم، منظم پوځ او د مرکزي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حکومت د واک پراختیا د دولت د بقا او راتلونکي پرمختګ لپاره بنسټيز شرايط وو. د هغه د دولت جوړوني عمومي منطق په دې ترتيب کې رانغاړل کېدای شي.
مرکزي واک ← امنيت ← اداري نظم ← منظم پوځ او مالياتي نظام ← اقتصادي او ټولنيز پرمختګ
له همدې امله د عبدالرحمن خان د ,,اوسپنيز,, سياست مفهوم بايد يوازې د سختې واکمنۍ، زور او سرکوب په مانا ونه کارول شي. د هغه د واکمنۍ بل اړخ د مرکزي اداري پراختيا، د مالياتو د راټولولو تنظيم، ريفورمونه او عصري تخنيکي پرمختګونه، د منظم پوځ رامنځته کول، د وسلو او مهماتو برابرول او د دولت د اداري جوړښت پياوړي کول وو. د عبدالرحمن خان دولت سازي يو دوهګونی تاريخي ميراث لري: مرکزي دولت يې پياوړی کړ، خو د دې پياوړتيا لپاره يې په پراخه کچه له قهري او سرکوبګر وسايلو هم کار واخيست.

۲۶. افغانستان؛ د برتانوي هند او تزاري روسيې ترمنځ حايل

عبدالرحمن خان په داسې جيوپوليټيک چاپيريال کې واک ته ورسېد، چې افغانستان د برتانوي هند او تزاري روسيې د ستراتيجيکې سيالۍ په منځ کې موقعيت درلود. له همدې امله، د هغه بهرنۍ سياست يوازې د ,,مقاومت,, او ,,تسليمۍ,, په ساده دوګوني چوکاټ کې نه شي تحليل کېدای.
د هغه د واکمنۍ يوه اساسي ستونزه دا وه، چې افغانستان د خپلواکو ستراتيجيکو انتخابونو لپاره محدود امکانات درلودل. داخلي سياسي کمزورتيا، محدود اقتصادي بنسټونه او د دوو لويو امپراتوريو جيوپوليټيک فشار هغه شرايط وو، چې د عبدالرحمن خان د بهرني سياست پر جهت يې ژور اغېز درلود.
له همدې امله، د هغه بهرني تصميمونه بايد د داخلي دولت سازۍ او بهرني ځواک توازن په ګډ چوکاټ کې وڅېړل شي.
د هغه اساسي محاسبه په تحليلي ډول داسې بيانېدای شي:
دننه: د مرکزي دولت پياوړتيا؛ بهر: د لويو قدرتونو ترمنځ د افغانستان د بقا لپاره د سياسي موازنې ساتل وو.

۲۷. د ,,اوسپني,, تر شا سياسي منطق

د عبدالرحمن خان سياست يوازې د زور له زاويې مطالعه کول د هغه د دولتدارۍ ټول تصوير نه وړاندې کوي. هغه هڅه وکړه چې سيمه ييز او قبايلي قدرتونه د مرکزي دولت تر واک لاندې راولي، مالياتي نظام منظم کړي، منظم پوځ رامنځته کړي او د کابل د حکومت اداري حضور د هېواد نورو برخو ته وغځوي او پراخ کړي.
په دې مانا، ,,اوسپنيز امير,, يوازې د سختۍ يو ادبي لقب نه، بلکې د هغه د واکمنۍ د يوه مهم ځانګړتيا، يعنې د مرکزي دولت د ارادې د سخت او متمرکز پلي کولو، د تشريح لپاره هم کارول کېدای شي. خو علمي تحليل بايد د دې سياست انساني او سياسي لګښتونه هم له پامه ونه غورځوي.

۲۸ عبدالرحمن خان او بيسمارک؛ ورته لقب، متفاوت شرايط

د عبدالرحمن خان او اوټو فون بيسمارک ترمنځ د ,,اوسپنيزو سياستوالو,, پرتله هغه وخت تحليلي ارزښت پيدا کوي، چې د دواړو د واکمنۍ تاريخي شرايط سره ګډ نه شي.
په افغانستان کې د يو کمزوري او داخلي شخړو له اغېزمن شوي دولت د مرکزي کولو له مسئلې سره مخ و؛ په داسې حال کې چې د نولسمې پېړۍ په اروپايي دولت سيستم کې د پروشيا تر مشرۍ لاندې د جرمني د يووالي، د دولت د ځواک د پراختيا او د اروپا د قدرتي موازنې له مسئلو سره بوخت و.
نو د دواړو ترمنځ ورتهوالی تر ډېره د مرکزي واک، دولت سازۍ، نظامي ځواک او د سياسي موخو لپاره د قوي دولتي وسايلو د استعمال په کچه ليدل کېدای شي؛ خو د دوی تاريخي، جيوپوليټيکي او بنسټيز شرايط يو شان نه وو.
له همدې امله، د ,,اوسپنيز سياستوال,, ګډ تعبير بايد د مستقيمي تاريخي معادل ګرځی پر ځای د مقايسوي تحليل د يوې وسيلې په توګه وکارول شي. د دواړو د سياست د سم درک لپاره بايد هم ورتهوالي او هم بنسټيز توپيرونه په پام کې ونيول شي.

۲۹ ايا عبدالرحمن خان د افغانستان ,,بيسمارک,, و؟.

دواړه د دولت جووني له نظره پرتله کېدای شي، خو دا علمي نه ده چې ووايو دوی په بشپړه توګه يو شان وو.
که د ,,افغان بيسمارک,, اصطلاح استعمالوو، بايد داسې يې تعريف کړو:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

عبدالرحمن خان د افغانستان په ځانګړو تاريخي شرايطو کې هغه ډول مرکزي دولت جوړوني ته مخه کړه، چې بيسمارک په جرمني کې د ټوټه ټوټه جرمن ولس، د دولتي ځواک، يووالي او سياسي تمرکز لپاره ترسره کړه؛ خو د دواړو د دولتونو بنسټونه، ټولنيز جوړښتونه، نړيوال شرايط او سياسي وسايل متفاوت وو.
نو امير عبدالرحمن خان ,,افغان بيسمارک,, بايد استعاري او مقايسوي اصطلاح وي، نه يو تاريخي رسمي لقب.

## ۳۰ . عبدالرحمن خان او بيسمارک: د ,,اوسپنيز,, سياست مقايسوي لنډ تحليل

د عبدالرحمن خان او بيسمارک ترمنځ مقايسوي تحليل د تاريخي شرايطو د توپير له درک پرته بايد ترسره و نه شي.
بيسمارک د پروشيا د صدراعظم او وروسته د جرمني د امپراتورۍ د لومړي صدراعظم په توګه د جرمني د يووالي په بهير کې مرکزي رول درلود. د هغه د سياسي ميراث په اړه ځيړني تينګار کوي چې د "Iron Chancellor„ مشهور تصوير د هغه د سياست ټول پيچلتياوې نه رانغاړي.
د عبدالرحمن خان د واکمنۍ مطالعه ښيي، چې د هغه د دولت سازۍ مرکزي منطق د مرکزيت، اداري نظم، مالياتي ظرفيت او پوځي ځواک پر پياوړتيا ولاړ و. د هغه د واکمنۍ پر مهال مرکزي دولت د هېواد په بېلابېلو برخو کې خپل اداري او نظامي حضور پراخ کړ، خو دغه پروسه له سختو قهري اقداماتو او ټولنيزو لګښتونو څخه هم خالي نه وه.
د ډيورنډ موافقه بايد د همدې دولت سازۍ او بهرني جيوپوليټيک چاپيريال په ګډ چوکاټ کې وکتل شي. د تړون اصلي متن ځرګندوي، چې په ۱۸۹۳م کال کې د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د,, د حد بندي ,, د حد ټاکلو، د متقابلي مداخلې د محدودولو، د نفوذ د ساحو د تنظيم او کرښه د (demarcation) يا موقتي کرښې توافق رامنځته شوی و.
د عبدالرحمن خان د ,,strong wall for protection,, د قوي ديوال درول څخه ښايي مطلب په اټک کې ديوال و، نه دلته د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې. دا تعبير هم ښيي چې هغه سرحدي ټاکنه د دولت د امنيت او سياسي بقا له تصور سره تړله، خو د هغه شخصي روايت بايد د تړون له اصلي متن او نورو تاريخي اسنادو سره يو ځای وارزول شي.
په پای کې، د عبدالرحمن خان او بيسمارک ترمنځ „اوسپنيز سياستوال" ګډ تعبير د مقايسي لپاره ګټور کېدای شي، خو يوازې هغه وخت چې د دواړو تاريخي ميدانونه سره ګډ نه شي. د دواړو ترمنځ د دولت د مرکزيت، نظامي ځواک او د ستراتيجيکي محاسبي په کچه ورتهوالی شته؛ خو د افغانستان او نولسمې پېړۍ د اروپا جيوپوليټيک، اقتصادي او نهادي شرايطو بنسټيز توپيرونه د دې مانا لري چې د دوی دولت سازي بايد د مستقيمي معادل ګرۍ پر ځای د مقايسوي تاريخ له لیارې مطالعه شي.
د ډيورنډ موافقه هغمهال ترسره شوه چې عبدالرحمن خان په يوه کمزوري او له بهرني سخت فشار سره مخ افغانستان کې د مرکزي دولت د ټينګولو هڅې کولې.
د هغه لپاره د برتانوي هند سره مستقيمه جګړه د دولت د داخلي جوړښت او بقا لپاره جدي خطر رامنځته کولای شو.
له بلې خوا، په مرکزي آسيا کې د افغانستان په پولو کې روسيې پوځونه د لوړې او پراختيا غوښتنې په موخه ، ګوته په ماشه کې ولاړ ول، دوی هم د افغانستان پر ځمکنې ستراتيجيک موقعيت باندې مستقيماً اغېز درلود.
له همدې امله د ډيورنډ مسئله بايد د هغه وخت د قدرت د نابرابر توازن، د افغانستان د محدودو امکاناتو او د دولت ساتنې د اړتيا په ګډ چوکاټ کې تحليل شي.
د دې مانا دا نه ده چې د تړون ټولې پايلې بايد مثبتې وبلل شي؛ بلکې خبره دا ده چې د تاريخي پرېکړې د علتونو تحليل بايد له هغې وروسته رامنځته شويو سياسي احساساتو څخه جلا وسانل شي.
د تړون يوه مهمه تاريخي پايله دا وه، چې د افغانستان د ختيځو او سوېلي سيمو په اړه د برتانوي هند د سياسي او اداري نفوذ ساحه تثبيت شوه او د پښتني قبايلو د جغرافيايي او سياسي يووالي مسئله يې له نوو ستونزو سره مخ کړه.
له همدې امله ډيورنډ کرکيچ تر نن ورځې پورې د افغانستان په تاريخ او سياست کې له تر ټولو لانجمنو او خونړيو ميراثونو څخه ګڼل کېږي.

## ۳۱. اوتو فون بيسمارک لنډه پيژندنه:

اوتو ادوارد لئوپولد فون بيسمارک (Otto Eduard Leopold von Bismarck) د ۱۸۱۵ کال د اپرېل په لومړۍ نېټه د پروسيا د شونهاوزن (Schönhausen) په سيمه کې زېږېدلی. هغه د يوې پخوانۍ پروسي اشرافي شتمني کورنۍ غړی و. پلار يې کارل ويلهلم فرديناند فون بيسمارک د ځمکو خاوند او متقاعد پوځي افسر و، او مور يې لوئيزه ويلهلمينه منکن (Luise Wilhelmine Mencken) وه چې له يوې تعليم يافته بورژوا کورنۍ څخه وه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

بیسمارک خپلي لومړنی زده کړې په برلین کي ترسره کړې او وروسته یې د ګوتینګن پوهنتون او برلین پوهنتون کي د حقوقو زده کړې وکړې. له زده کړو وروسته یې د پروسیا په دولتي ادارو کي کار پیل کړ، خو ډېر ژر یې سیاسي فعالیتونو ته مخه کړه.
هغه په ۱۸۴۷ کال کي د پروسیا د متحدې جرګې غړی شو او په تدریج سره د پروسیا په سیاست کي یو مهم شخصیت وګرځېد. په ۱۸۶۲ کال کي د پروسیا صدراعظم او د بهرنیو چارو وزیر شو.
بیسمارک د واقعبینانه سیاست (Realpolitik) له امله مشهور شو. هغه باور درلود چي د دولت مهمي موخي باید د موجودو سیاسي، اقتصادي او پوځي امکاناتو، ځواک او ډیپلوماسۍ له لارې ترلاسه شي. د ده د سیاست مهمي وسیلي پوځي ځواک، ډیپلوماسي، ائتلافونه او د سیاسي شرایطو دقیقه محاسبه وه.
د هغه تر ټولو ستره تاریخي لاسته راوړنه د جرمني یووالی په ۱۸۷۱ کال کي و. له دې وروسته بیسمارک د متحدې جرمني امپراتورۍ لومړی صدراعظم (Reichskanzler) شو او تر ۱۸۹۰ کال پورې یې دغه مقام وساته.
بیسمارک په ۱۸۹۸ کال د جولای په ۳۰مه د جرمني په فریدریشسرو (Friedrichsruh) کي ومړ.
بیسمارک په یوه جمله کي: هغه پروسي اوسپنیز سیاستوال و چي د ځواک، پوځ، ډیپلوماسۍ او واقعبینانه سیاست په ترکیب سره یې د جرمني د یووالي په رامنځته کولو کي مرکزي رول ولوباوه او د نولسمي پېړۍ د اروپا د سیاست پر جوړښت یې ژور اغېز وکړ.
د بیسمارک دا مشهوره وینا: د ۱۸۸۸ کال د فبرورۍ په ۶مه د جرمني په رایشتاګ کي شوې وه.
„Wir Deutsche fürchten Gott, aber sonst nichts in der Welt!“
پښتو ژباړه:"موږ جرمنان له خدایه وېرېږو، خو په نړۍ کي له بل هیڅ شي څخه نه وېرېږو"!
د دې جملي بشپړ سیاسي مفهوم دا و، چي بیسمارک غوښتل د جرمني د دولت په ځانباورۍ، ملي درېځ او له بهرنیو فشارونو څخه د نه وېرېدو احساس څرګند کړي. دا خبره یې د اروپا د هغه وخت د ځواکمنو دولتونو ترمنځ د جرمني د امنیت او درېځ په اړه د رایشتاګ په بحث کي وکړه.
د بیسمارک په سیاسي فکر کي پر خدای باور، دولت ملي ګټي، ځواک او واقعبینانه ډیپلوماسي یو له بل سره تړلي مفاهیم ول.

## ۳۲ . امیر عبدالرحمن خان؛ لنډه پېژندنه، ژوند او سیاسي شخصیت

په نولسمه پېړۍ کي د افغانستان په زړه کي، کله چي د تزاري او برتانوي نړیوالي امپراتوري او د بغاوتو بادونه د افغانستان په غرونو او رغونو کي په شدت سره روان ول، د یوې کلکي اوسپنیزې ارادې سړي، د افغانانو په لوی کور کي د ګډوډیو ختمولو او د افغانانو ترمنځ د یووالي د رامینځته کولو لپاره راپورته شو. د هغه نوم عبدالرحمن خان و، په جلاوطنۍ کي یو شهزاده و، هغه طبیعتاً یو توریالي جنګیالي په صفت زیږېدلي و، همدغه سړی د "اوسپنیز امیر" په نوم په نړۍ کي مشهور او وپیژندل شو. ان په ځوانۍ کي د هغه ژوند د کورنۍ سیالیو له ګډوډۍ سره مخ و. په ۱۸۹۶ کال کي امیر عبدالرحمن خان ته د اعلیحضرت,, ضیاء الملت والدین,, (د ملت او دین رڼا) لقب ورکړل شو.
امیر عبدالرحمن خان د افغانستان له هغو تاریخي واکمنانو څخه و، چي د نولسمي پېړۍ په وروستیو لسیزو کي یې د هېواد پر سیاسي، اداري او پوځي جوړښت ژور اغېز پرېښود.
نوموړی شاوخوا په ۱۸۴۴/ ۱۸۸۰کال د مي میاشتي ۳۱ مه نیټه په کابل کي زېږېدلي او په ۱۹۰۱ د اکتوبر په لومړۍ نیټه وفات شوي. عبدالرحمن خان د امیر محمد افضل خان زوی او د امیر دوست محمد خان لمسی و. هغه د افغانستان په یوه له سیاسي پلوه مهمي او  د  افغانستان له واکمنۍ سره تړلي کورنۍ کي سترګي  دنیا ته وغړولي او له ځوانۍ څخه یې د هېواد په سیاسي او پوځي چارو کي ونډه واخیسته.
د ځوانۍ پړاونه او د واک لپاره مبارزه ؛ عبدالرحمن خان لا له ځوانۍ څخه د زړورتیا، پوځي وړتیا او سیاسي ځیرکتیا نښي څرګندې کړې وې. نوموړي د خپل پلار، محمد افضل خان، او تره محمد عظیم خان، په هغو سیاسي او پوځي هڅو کي برخه واخیسته چي د ۱۸۶۵ او ۱۸۶۸ کلونو ترمنځ د امیر شیر علي خان د واکمنۍ پر وړاندې ترسره شوې. په همدې دوره کي د افغانستان داخلي سیاسي اختلافات له سیمه ییزو او نړیوالو سیالیو سره هم تړاو پیدا کړ. په منځنۍ اسیا کي د روسیې د پراختیا او د برتانوي هند د ستراتیجیکو اندېښنو له امله د افغانستان جغرافیایي موقعیت لا زیات اهمیت پیدا کړی و. له همدې امله د افغانستان داخلي شخړې یوازې کورنۍ سیاسي موضوع نه وه، بلکي د روسیې او برتانوي هند د لویې لوبې سیالۍ له پراخې فضا سره هم تړاو درلود.
عبدالرحمن خان په ۱۸۶۶ کال کي کابل ونیو او د دې بریا په پایله کي یې خپل پلار محمد افضل خان د کابل واک ته ورساوه. خو دا حالت ډېر دوام ونه کړ. کله چي محمد افضل خان په ۱۸۶۷ کال کي وفات شو او د هغه تره عظیم


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خان د شیر علي خان له ځواکونو سره په مبارزه کې ماتې وخوړه، عبدالرحمن خان ونه توانېد چې د خپلې واکمنۍ لپاره کافي سیاسي او پوځي ملاتړ برابر کړي. له همدې امله اړ شو چې له افغانستان څخه ووځي.

## ۳۳. په بخارا او سمرقند کې د تبعید کلونه، بیرته راستنېدل او سیاسي واک ترلاسه کول

له افغانستان څخه تر وتلو وروسته عبدالرحمن خان د روسیې تر نفوذ لاندې منځنۍ اسیا بخارا ته ولاړ. روسي حکومت هغه ته په سمرقند کې د استوګنې زمینه برابره کړه او د هغه لپاره یې کلنۍ معاش هم ټاکلی و.
هغه نږدې یوولس کاله له افغانستان څخه بهر تېر کړل. که څه هم په دې موده کې یې د افغانستان په سیاسي چارو کې مستقیمه ونډه نه اخیسته، خو له خپل هېواد څخه یې اړیکې نه وې پرې کړې. نوموړي د استازو، باوري کسانو او پټو پیغامونو له لارې د افغانستان له سیاسي وضعیت څخه ځان باخبره ساته او په هېواد کې روان تحولات یې له نږدې څارل.
د تبعید دغه دوره د عبدالرحمن خان د شخصیت په جوړېدو کې ځانګړې اهمیت لري. نوموړي په منځنۍ اسیا کې د روسیې د اداري نظام، پوځي جوړښت، د دولت د تمرکز میکانیزمونو او د هغه وخت د سیاسي ادارو له طریقو سره له نږدې بلدتیا پیدا کړه. که څه هم هغه په رسمي ډول د نن ورځې مانا او په مفهوم کې لوړې تحصیلي زده کړې نه وې کړې، خو د مشاهدې، مطالعې او عملي تجربې له لارې یې د دولتدارۍ په اړه د پاموړ پوهه ترلاسه کړې وه.
د افغانستان سیاسي وضعیت په ۱۸۷۹ کال کې د پاموړ بدلون وموند. د امیر شیر علي خان له مړیني وروسته د هغه زوی یعقوب خان واک ته ورسېد، خو د دویمې افغان ـ انګلیس جګړې او نورو سیاسي تحولاتو له امله د هېواد وضعیت ډېر نازک شو.
په همدې شرایطو کې عبدالرحمن خان ته د بیرته راستنېدو فرصت برابر شو. نوموړی له کلونو تبعید وروسته افغانستان ته راستون شو او په شمالي سیمو کې یې خپل سیاسي نفوذ پیاوړی کړ. په پای کې د برتانوي هند له استازو سره د سیاسي تفاهم په پایله کې هغه د افغانستان د امیر په توګه وپېژندل شو.
په دې ترتیب، عبدالرحمن خان د۱۸۸۰ کال په شاوخوا کې د افغانستان د واکمنۍ واګې په لاس کې واخیستې. د هغه واکمني تر ۱۹۰۱ کال پورې وغځېده.

## ۳۴. د عبدالرحمن خان شخصیت او ظاهري ځانګړتیاوې

عبدالرحمن خان د قوي شخصیت، باوقاره دریځ او جدي مزاج خاوند و. د هغه په اړه تاریخي روایتونه ښیي، چې نوموړی قوي غښتلي مزی اندام درلود، لویه کوپړۍ درلوده، ځرګندې سترګې، توره او ګڼې ګیره درلوده او ځانګړې افغاني میړني څېره یې لرله.
د هغه ظاهري کاریزماتیکه شخصیت، وقار او د مشرۍ ځانګړې چلند پر عامو خلکو ژور اغېز کاوه. د ده په حرکاتو او خبرو کې د پیاوړې هوډ، پرېکنده ارادې او د جدي قوماندې روحیه ځرګندېدله. سره له دې چې د دولت په رسمي او سیاسي چارو کې یې سختدریځ درلود، د شخصي ناستو او خبرو په اړه ځینې روایتونه هغه د زړه راښکونکي، خوش تبه مشر او مهربان شخص په توګه هم یادیږي.
د عبدالرحمن خان د شخصیت یوه مهمه ځانګړنه د هغه سیاسي ځیرکتیا، عملي فکر او پوځي روحیه وه. هغه د خپل عصر له سختو سیاسي شرایطو سره د مقابلې لپاره له پوځي ځواک، سیاسي تدبیر او مرکزي دولت څخه پراخه ګټه واخیسته.

## ۳۵. زده کړه، مطالعه، فکري وده او د دولت د مرکزي کولو هڅې

عبدالرحمن خان په دودیزه مانا پراخه رسمي زده کړه نه وه کړې او د ژوند په لومړیو کلونو کې یې د لیک او لوست له پلوه محدود فرصتونه درلودل. خو د ژوند په وروستیو پړاوونو کې یې د مطالعې، تجربې او سیاسي مشاهدې له لارې د پاموړ مالومات او پوهه ترلاسه کړه.
په ځانګړې توګه د تبعید کلونو هغه ته فرصت ورکړ، چې د منځنۍ اسیا د سیاسي او اداري جوړښتونو، پوځي نظامونو او د دولتدارۍ د بېلابېلو طریقو په اړه عملي تجربه ترلاسه کړي. د همدې تجربو اغېزې وروسته د هغه په حکومتولۍ کې تر سترګو شوې.
عبدالرحمن خان په تبعید کې دې پایلې ته رسېدلی و، چې یو باثباته دولت یوازې پر قبایلي ټړونونو او سیمه ییزو ائتلافونو نه شي ولاړ پاتې کېدای، بلکې منظمې اداري، منسجم پوځ، روښانه اداري جوړښت او پیاوړي مرکزي واک ته اړتیا لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کله چې واک ته ورسېد، د همدې لیدلوري پر بنسټ یې د دولت د مرکزي کولو هڅې پیل کړې. هغه هڅه وکړه چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د مرکزي حکومت واک پیاوړی کړي، دولتي اداري منظمې کړي او یو نسبتاً منسجم پوځي او اداري نظام رامنځته کړي.
د همدې سیاست له امله عبدالرحمن خان په تاریخ کې د ,,اوسپنیز امیر,, په نوم هم مشهور شوی دی. دا لقب د هغه د حکومت د سخت مرکزي نظم او د واک د ټینګولو له سیاستونو سره تړاو لري.

## ۳۶. د تبعید تجربې او د اصلاحاتو بهیر

په منځنۍ اسیا کې د عبدالرحمن خان د تبعید کلونو تجربې د هغه پر راتلونکي واکمنۍ اغېزمنې وې. نوموړي د روسیې په منځنۍ اسیا کې د دولتدارۍ هغه طریقې ولیدې، چې په کې مرکزي اداره، منظم پوځ او د حکومت پراخ اداري نفوذ مهم رول درلود.
کله چې په افغانستان کې واک ته ورسېد، هڅه یې وکړه چې د خپلو مشاهداتو ځینې برخې د افغانستان له شرایطو سره سمې عملي کړي. د هغه د واکمنۍ په دوره کې د مرکزي حکومت د پیاوړتیا، د پوځ د تنظیم، د دولتي ادارو د پراختیا او د سیاسي واک د تمرکز لپاره یو لړ اقدامات ترسره شول.
البته د عبدالرحمن خان د واکمنۍ ارزونه یوازې د دولت جوړونې او اداري اصلاحاتو له زاویې نه شي کېدای؛ ځکه د هغه د حکومت د مرکزي کولو بهیر له سختو پوځي عملیاتو، سیمه ییزو شخړو او د واک د ټینګولو له جدي اقداماتو سره هم مل و. له همدې امله د هغه میراث په افغان تاریخ کې له بېلابېلو او کله ناکله متضادو لیدلورو څخه څېړل کېږي.

## ۳۷. له بریتانیا سره سیاسي اړیکې او د روسیې په اړه لیدلوری

عبدالرحمن خان په داسې وخت کې واک ته ورسېد، چې افغانستان د روسیې او برتانوي هند ترمنځ د ستراتیجیکي سیالۍ په منځ کې موقعیت درلود. هغه پوهېده چې د افغانستان د بهرني سیاست موضوع د هېواد له داخلي ثبات سره نېغ په نېغه تړاو لري. د هغه او بریتانوي حکومت ترمنځ د سیاسي تفاهم له مخې، بریتانیا د افغانستان د بهرنیو اړیکو په برخه کې پراخ نفوذ ترلاسه کړ، په داسې حال کې چې عبدالرحمن خان د هېواد د داخلي حکومتولۍ او واکمنۍ چارې تر ډېره په خپل لاس کې وساتلې.
دا وضعیت د هغه د واکمنۍ له مهمو ځانګړنو څخه و او د افغانستان د نولسمې پېړۍ د وروستیو لسیزو په سیاسي تاریخ کې ځانګړی ځای لري.
عبدالرحمن خان د روسیې د پراختیایي سیاست په اړه ژوره اندېښنه لرله. هغه په منځنۍ اسیا کې د روسیې پوځي او سیاسي پراختیا یا هژموني له نږدې څارلې او لیدلې وه او باور یې درلود چې د روسیې نفوذ به د افغانستان د خپلواکۍ لپاره یوه جدي ننګونه وي.
د هغه په سیاسي لید کې افغانستان د دوو لویو قدرتونو، روسیې او برتانوي هند، ترمنځ د ستراتیجیک اهمیت لرونکی هېواد و. له همدې امله هغه هڅه کوله چې د بهرنیو قدرتونو ترمنځ له موجودې سیالۍ څخه د افغانستان د دولت د بقا او خپلواکۍ لپاره ګټه واخلي.

## ۳۸ . سیاسي واک، د شاهي دولت وارث، وفات او تاریخي میراث

امیر عبدالرحمن خان خپل زوی، سردار حبیب‌الله خان، د خپل سلطنت وارث وټاکه. د عبدالرحمن خان له مړینې وروسته، حبیب‌الله خان په ۱۹۰۱ کال کې د افغانستان واکمن شو او د خپل پلار سیاسي او اداري میراث یې، که څه هم په نسبتاً نرم او محتاط سیاست سره، تعقیب کړ.
امیر عبدالرحمن خان د ۱۹۰۱ کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه وفات شو. د هغه شاوخوا دوه لسیزې واکمني د افغانستان د معاصر سیاسي تاریخ له مهمو او اغېزناکو پړاوونو څخه ګڼل کېږي. د هغه د واکمنۍ پر مهال د مرکزي دولت د بنسټونو د پیاوړتیا، د پوځ او دولتي ادارو د تنظیم، د مالیاتي نظام د پراختیا او د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د مرکزي حکومت د واک د ټینګولو لپاره پراخې هڅې وشوې.
د عبدالرحمن خان د واکمنۍ یوه مهمه ځانګړنه د مرکزي دولت د واک پراخول او د افغانستان د سیاسي او اداري جوړښت بیا تنظیمول وو. هغه هڅه وکړه چې د مرکزي حکومت واک پر هغو سیمو او محلي ځواکونو هم پراخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړي، چې تر هغه وړاندې يې له مرکزي ادارې سره محدود يا غيرمستقيم اړيکي لرلې. د پوځ او ادارې پياوړتيا هم د همدې بهير يوه مهمه برخه وه.
له بلې خوا، د مرکزي واک د ټينګولو لپاره د عبدالرحمن خان سخت سياستونه، پوځي عمليات، د مخالفو ډلو ځپل او د دولت د واک د پراختيا لارې چارې د تاريخپوهانو او څېړونکو له بېلابېلو ليدلورو سره مخ شوي دي. ځيني څېړونکي د هغه د واکمنۍ پر مهال د مرکزي دولت د جوړېدو او د سياسي ثبات د رامنځته کېدو څخو ته اهميت ورکوي، په داسې حال کې چې نور د هغه د واکمنۍ له سختو پوځي او سياسي اقداماتو، د خلکو له ځپلو او د بشري تلفاتو له اړخونو سره زيات تمرکز کوي. له همدې امله، د عبدالرحمن خان د واکمنۍ ارزونه يوازې له يوه اړخه نه شي کېدای.
د عبدالرحمن خان د واکمنۍ په بهرني سياست کې هم د افغانستان جغرافيايي موقعيت او د روسيې امپراتورۍ او برتانوي هند ترمنځ سيالي، چې د ,,لويې لوبې,, په نوم يادېږي، مهم رول درلود. افغانستان د دغو دوو ستر قدرتونو ترمنځ د سيالۍ په منځ کې موقعيت درلود او د همدې وضعيت له امله د هېواد بهرنۍ سياست له ځانګړو محدوديتونو او فشارونو سره مخ و. عبدالرحمن خان هڅه کوله چې د دغو شرايطو په چوکاټ کې د خپل حکومت داخلي واک پياوړی او د هېواد سياسي جوړښت منظم کړي.
په ټوله کې، عبدالرحمن خان د افغانستان په تاريخ کې يو پېچلې، اغېزناک او د بحث وړ تاريخي سياسي شخصيت دی. د هغه د واکمنۍ د سم درک لپاره اړينه ده چې د هغه وخت کورني اختلافات، قبايلي او سيمه ييز جوړښتونه، د مرکزي دولت د کمزورتيا ستونزې، د پوځ او ادارې وضعيت، د روسيې او برتانوي هند ترمنځ د ,,لويې لوبې,, سيالي او د افغانستان جغرافيايي موقعيت ټول په ګډه په پام کې ونيول شي.
د عبدالرحمن خان تاريخي ميراث يوازې د يوه واکمن د ژوند او واکمنۍ کيسه نه ده؛ بلکې د هغه تاريخي پړاو انعکاس هم دی چې افغانستان په کې د يوه نسبتاً پياوړي مرکزي دولت د جوړېدو، د داخلي واک د تنظيم، د اداري او پوځي بنسټونو د پراختيا او د نړيوالو قدرتونو ترمنځ د خپل سياسي ځای د ساتلو له مهمو پړاوونو څخه تېرېده. د هغه له مړيني وروسته د ده زوی، امير حبيب‌الله خان، د واک چارې پر غاړه واخيستې او د خپل پلار له خوا رامنځته شوي ډېری دولتي بنسټونه يې له نسبتاً نرمې تګلارې سره وساتل او په ځينو برخو کې يې لا پراخ کړل.
په همدې مانا، د عبدالرحمن خان دوره د افغانستان د دولت جوړوني په بهير کې يو مهم تاريخي پړاو ګڼل کېږي؛ خو د دې دورې بشپړ انځور هغه مهال ترلاسه کېدای شي، چې د دولت د مرکزي کېدو تر څنګ د هغه وخت ټولنيزې، سياسي، پوځي، سيمه ييزې او نړيوالې پايلې هم په پام کې ونيول شي.

د دويمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ